مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

مصطفي پسرلی ۲۰۲۱/۱۱/۱۳

# غزل

راځئ چي له آمو نه تر اټک غړونه يو کړو
دا کرښي له مينځ يوسو او لاسونه سره يو کړو

دا درې رنګه بيرغ دي رابخښلي ډېر وياړونه
راځئ چي يو ملت شو، دا قامونه سره يو کړو

چغار چي د بلبلو شي، بورا هم په نڅاه شي
ترې جوړه ګلدسته کړو دا ګلونه سره يوکړو

نسيم په خپرېدو دی اوغوټۍ به په خندا شي
راځئ چي تکلونه، قدمونه سره يو کړو

شمشاد او تاتره کښي ماښامونه دي مست شوي
راتلو د پسرلي ته اتڼونه سره يو کړو

مصطفی پسرلی
14/Nov/2021



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ